AjSO
Afghanistan Journalists Support Organization

د رسنیو له وضعیت څخه د افغانستان له خبریالانو د ملاتړ سازمان تحلیل

د افغانستان او افغانانو سترګې، غوږونه او ژبه څنګه ورټړل کیږي



۲۰۲۴

له تېرې یوې اونۍ څخه له افغان خبریالانو څخه د ملاتړ ســازمان داســې خواشــینوونکي خبرونه ترلاســه کوي، چې ښــیي؛ افغانســتان د تېرې شــمسي ـ پېرۍ د اویایمو کلونو په شــان یوځل بیا د اطلاعاتو له اړخه تورې تیارې ته ورټېل‌وهل کیږي.

په ۲۰۲۱ کې د افغانســتان تر ســقوط روســته افغان نجونې و مېرمنې او رســنۍ و رســنوال هغه ټولنیز پوړونه دي، چې تر هر بل چا ډېر زیان وراوښــتی دی. طالب واکمنو ورځ په ورځ پر رســنیو او رسنوالو د کار اوفعالیت، وینا او خپرونو بندیزونه، سانسور او محدودیتونه دومره ډېره کړل، چې په تدریج یې د خپلواکو رسنیو کمپله ورټوله او دولتي رسنۍ یې هم یوازې و یوازې په خپلو تبلیغاتي دستګاوو بدلې کړې.

تېره اونۍ هغه ویره هم عملي شــوه، چې طالبان غواړي د ملي تلویزیون خپرونې بندې کړي. دا کیســه له اوږدې مودې راپه دېخوا روانه ده، چې طالبان غواړي په تلویزیونونو کې د ژوندیو موجوداتو تصویرونه بند کړي. دا حکم له کندهار څخه پیل شو. په کندهار کې نور نو تلویزیونونو د ژوندیو موجوداتو تصویرونه ښوولای نه شو. په تلویزیون کې که تصویر نه وي، داسې ده لکه په یوه وجود کې چې روح نه وي، لکه په الفاظو کې چې مانا نه وي او لکه سترګو ته چې د پرانیستلو اجازه نه وي.

خلک تعجب کوي، چې دا هرڅه څنګه پېښــیږي؟ او ولې پېښــیږي؟ لومړی یې موسیقي بنده کړه، بیا یې ښځینه ویاندانې منع کړې او دا دی اوس یې د تصــویرونو ښــوول بند کړل. تېره اونۍ د لوړو زدکړو د وزیر په ناسته کې تلویزیوني کمرو ته اجازه نه وه ورکړل شوې.

طالبانو په یوه بل اقدام کې شنونکی او د پوهنتون استاد جاوید مومند هم د هغه د رسنیزو څرګندونو لپاره نیولی دی. ښاغلی مومند له پخوا څخه هم د طالبانو د نیولو او ځوروولو تر ګواښ لاندې و.

بله خورا خطرناکه پرېکړه د ایران د سیستان بلوچستان د سروان سیمې په کلګان کې د هغو ۲۶۰ تنه افغان کډوالو د وژلو د پېښې په اړه له هرراز خبرخپرولو، څرګندونو، ګزارش جوړولو او ان په ټولیزو رسنیزو جالپانو کې په دې اړه د خه ویلو کلک بندیز، سانسور او تعقیب دی. داسې ښکاري، چې ایران و طالبان دواړه له یو بل سره په اســتخباراتي هماهنګۍ کې د دغې پېښــې په اړه د اطلاعاتو د خپرېدا جدي مخه نیسي. ښاغلی جاوید مومند او یو شمېر نور مبصرین د دغې پېښې قربانیان دي،

همدا راز ویل کیږي، چې د شهیدانو د کورنیو غړیو ته جدي ګوابنونه شوي دي، چې د خپلو عزیزانو د قتل په اړه هېڅ هم ونه وایي.

ښکاري داسې، چې له تلویزیون او رسنیو څخه د طالبانو ویره د مستندو اطلاعاتو له خپرېدو ویره ده، چې دوی ورته شرعي پرده اچولې، ګواکې په تلویزیون ژوندیو موجوداتو ښوول شرعي جواز نه لري او د عکسونو اخیستل حرام دي.

خلکو پر ټولیزو رسنیو تبصرې کړې دي، که داسې وي نو طالبان به په هینداره کې خپل تصویر ته کتل هم منع کړي، او که نه په هینداره کې تصویر ته کتل او پر تلویزیون بل ژوندي موجود ته کتل څه توپیر سره لري؟

له افغانستان خبریالانو څخه د ملاتړ سازمان دې باور ته رسېدلی دی، چې طالبانو افغانستان د یوې بشپړې اطلاعاتي تیارې لوري ته روان کړی دی او غواړي داسې تپه تیاره خپره کړي، چې د دوی او د دوی د هرراز جنایت او پر پېښېدو پرده وغورځوي. دا تمه هم نوره بېځایه ده، چې طالبان دې د بیان و رسنیو ازادي او اطلاعاتو ته د لاسرسي حق ته تمکین وکړي. د سازمان له نظره دوه هڅې مهمې دي، لومړی دا چې د بیان د ازادۍ او د رسنیو نړیوال بنسټونه او د بشري حقونو اړوند سازمانونه په دې برخه کې د نړیوالو اصولو پربنسټ پر طالب ډلې فشار راوړي، چې د افغانانو دغه بنسټیې حقونه تر پښو لاندې نه کړي او اطلاعاتو د لاسرسي حق او د بیان و رسنیو ازادي په رسمیت وپېژني.

دویمه لاره دا ده، چې په تبعید کې ټول افغان خبریالان او فعالې رسنۍ ښایي د بدیلو لارو په رامنځته کولو سره، اطلاعاتو ته د لاسرسي امکانات برابر کړي او په دې توګه هغه تشه تر یوه بریده ډکه کړي، چې د طالبانو د استبدادي چلند او سانسور له امله رامنځته شوې ده.

په دې برخه کې به سازمان خپلو هلو ځلو او هڅو ته لاپسې زور ورکړي او په خپل وار سره به پرېنه‌ږدي چې افغانان له هغو پېښو او جریاناتو څخه ببخبره پاتې شي، چې د دوی له ژوند و برخلیک سره مخامخ تړاو لري، همدا راز د یوه مسلکي و صنفي تعامل له مخې ښایي بهرمیشتي رسنوال او فعالین دا لاره هواره کړي، چې د هرراز کړکېچ پرمهال د افغانانو غږ او د وضعیت ریښتینی تصویر نړۍ ته په رڼه توګه خرګند پاتې شي.

د افغانستان له خبریالانو د ملاتړ سازمان